## کتاب پېژندنه


**د کتاب نوم:** اقتصادي رياضي

**څانګه:** بانکداري او د تجارت اقتصاد

**مولف:** محمد دهقانمل

**ژباړن:** عزت الله څواب

**د څار کمېټه:**

- محمد آصف ننګ د تخنيکي او مسلکي زده کړو معين
- ديپلوم انجنير عبدالله کوزاړي د تعليمي نصاب رييس
- محمد اشرف وحدت په تعليمي نصاب کې د معينيت د مقام سلاکار

**د علمي تصحيح کمېټه:**

- عبدالجميل ممتاز
- محب الرحمن محب
- احمد فهيم سپين غر

**د ګرافيک او ډيزاين څانګې مسئول :** محمد جان عليرضايي

**ګرافيک او ډيزاين:** محمد سليم خان

**چاپ کال:** ۱۳۹۲ لمريز کال

**تيراژ:** ۱۵۰۰

**چاپ ځل:** لومړی

**وېب پاڼه:** www.dmtvet.gov.af

**برېښناليک:** info@dmtvet.gov.af

ISBN کډ: ۹۷۸۹۹۳۶۳۰۰۵۹۰


Ketabton.com

د چاپ حق د تخنيکي او مسلکي زده کړو له معينيت سره خوندي دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ملي سرود

دا وطن افغانستان دی — دا عزت د هر افغان دی
کور د سولې کور د تورې — هر بچی یې قهرمان دی
دا وطن د ټولو کور دی — د بلوڅو د ازبکو
د پښتون او هزاره وو — د ترکمنو د تاجکو
ور سره عرب، ګوجر دي — پامیریان، نورستانیان
براهوي دي، قزلباش دي — هم ایماق، هم پشه یان
دا هیواد به تل ځلیږي — لکه لمر پر شنه آسمان
په سینه کې د آسیا به — لکه زړه وي جاویدان
نوم د حق مو دی رهبر — وایو الله اکبر وایو الله اکبر

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د پوهنې وزیر پیغام

**ګرانو زده کوونکو، محصلانو او درنو ښوونکو!**

د یوې ټولنې وده او پرمختګ کاملاً د همغې ټولنې د پیاوړو کاري کادرونو، بشري قوې او ماهرو فکرونو په کار او زیار پورې تړلي دي. همدا بشري قوه او کاري متې دي چې د هیواد انکشافي اهدافو ته د رسیدو لارې چارې طی کوي او د یوه نیکمرغه، مرفه او ودان افغانستان راتلونکی تضمینوي.

انسان په خپل وار سره د الله تعالی له جانبه او هم د خپل انساني فطرت له اړخه مؤظف او مکلف دی چې د ځمکې په عمران او د یوه سوکاله ژوند د اسبابو او ایجاباتو د تکمیل لپاره خپل اغیزمن نقش، همدارنګه ملي او اسلامي رسالت ادا کړي.

له همدې ځایه ده چې د یوه ژوندي او فعال انسان نقش، د خپل ژوند د چاپیریال او خپلې اړوندې ټولنې په اړه، تل مطلوب او په هیڅ حالت کې نه نفی کیږي او نه هم منقطع کیږي.

په ټول کې د پوهنې نظام او په خاصه توګه د تخنیکي او مسلکي زده کړو معینیت مسوولیت او مکلفیت لري چې د اسلامي ارزښتونو، احکامو او همداراز معقولو او مشروعو قوانینو ته په ژمنتیا سره، د افغانستان په انکشاف کې فعاله، چابکه او موثره ونډه واخلي، ځکه دغه ستر او سپیڅلي هدف ته د رسیدو په خاطر د انساني ظرفیت وده، د حرفوي، مسلکي او تخنیکي کادرونو روزنه او پراختیا یو اړین مقصد دی. همدا په تخنیکي او مسلکي زده کړو مزین تنکي ځوانان کولی شي چې په خپلې حرفې او هنر سره په سیستماتیک ډول د هیواد انکشاف محقق او میسر کړي.

جوته ده چې په افغانستان کې د ژوند ټګ لاره، دولتداري او ټولنیز نظام د اسلام له سپیڅلو احکامو څخه الهام اخیستی، نو لازمه ده چې زموږ د ټولنې لپاره هر ډول پرمختګ او ترقي باید په علمي معیارونو داسې اساس او بنا شي؛ چې زموږ د کارګر نسل مادي او معنوي ودې ته پکې لومړیتوب ورکړ شي. د حرفوي ظرفیت جوړونې تر څنګ د ځوانانو سالم تربیت او په سوچه اسلامي روحیې د هغوی پالنه نه یوازې پخپل ذات کې یوه اساسي وجیبه ده، بلکې دا پالنه کولی شي چې زموږ وطن پخپلو پښو ودروي، له ضعف څخه یې وژغوري او د نورو له سیاسي او اقتصادي احتیاج څخه یې آزاد کړي.

زموږ ګران زده کوونکي، محصلان، درانه استادان او مربیون باید په بشپړه توګه پوه شي، چې د ودان او نیکمرغه افغانستان ارمان، یوازې او یوازې د دوی په پیاوړو متو، ویښ احساس او نه ستړې کیدونکي جد او جهد کې نغښتی او د همدغو مسلکي او تخنیکي زده کړو له امله کیدای شي په ډیرو برخو کې د افغانستان انکشافي اهداف تر لاسه شي.

د دې نصاب له ټولو لیکوالانو، مولفینو، ژباړونکو، سموونکو او تدقیق کوونکو څخه د امتنان تر څنګ، په دې بهیر کې د ټولو کورنیو او بهرنیو همکارانو له مؤثرې ونډې او مرستو څخه د زړه له کومې مننه کوم. له درنو او پیاوړو استادانو څخه رجامندانه هیله کوم چې د دې نصاب په ګټور تدریس او فعاله تدریب سره دې د زړه په ټول خلوص، صمیمي هڅو او وجداني پیکار خپل ملي او اسلامي نقش ادا کړي.

د نیکمرغه، مرفه، پرمختللي او ویاړمن افغانستان په هیله

**فاروق وردګ**
**د افغانستان د اسلامي جمهوریت د پوهنې وزیر**

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لړلیک



| پاڼې | سرلیکونه | څپرکي |
|---|---|---|
| ۱-۲۸ | د توابعو لمټ او د هغو اهمیت | لومړی |
| ۲۹-۵٤ | مشتق | دویم |
| ۵۵-۷۲ | قسمي، ترکیبي او کلي مشتق نیونه | دریم |
| ۷۳ | سرچینې او اخیستنې | |
| ۷٤ | د ښوونیز نصاب د پراختیا د ریاست پیغام | |

(c) ketabton.com: The Digital Library

## مقدمه

اقتصادي رياضي د بانکدارۍ، اقتصاد او تجارت د څانګې د مهمو او اساسي مضامينو له ډلې څخه ده، چې محصلين يې په زده کولو سره د بانکي محاسبو او د تجارت د اقتصاد لپاره اړين مهارتونه ترلاسه کولای شي.

په لومړي څپرکي کې د توابعو لمټ، لمټ او په مسلکي برخو کې د هغو د کارولو په اړه توضيحات وړاندې شوي دي. په دويم څپرکي کې بيا مشتق، د مشتق ډولونه، د هغو اړوندې قاعدې او اړوند تمرينات له پوره شننې سره ځای پرځای شوي دي.

په درېيم څپرکي کې د قسمي، ترکيبي او کلي مشتق نيونې په اړه توضيحات او تشرېحات وړاندې شوي دي. د څپرکي د موضوعاتو د نچوړ تمرينونه راوړل شوي، چې د يادو تمرينونو حل د محصلينو لپاره د درس په ښه درک کې مهمه مرسته کولای شي.

هيلمن يم د دې ټولګې په چاپ سره د دې برخې د استادانو د ستونزو يوه برخه حل شي او د درنو استادانو او ګرانو محصلينو لپاره اړينې اسانتياوې منځ ته راوړي.

په درناوي

محمد دهقان مل

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د کتاب ټولیزه موخه**

په محاسبوي چارو کې اړین مهارتونه ترلاسه کول او د اقتصادي ریاضي د اړوندو مسایلو حل؛ څو له قاعدو سره سم د تولید، صنعت او احصایې په برخو کې ترې ګټه واخستل شي او د انسان ورځنی ژوند ورباندې هوسا شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لومړی څپرکی

## د توابعو لمټ او د هغو اهمیت

**ټولیزه موخه**

لوستونکي کولای شي د توابعو د لمټ اساسي مفهوم، د هغې اصول او قواعد درک کړي، لازم مهارتونه په کار یوسي، کولای شي مسایل حل کړي او د ټولنیز ژوند په ټولو ساحوکې يې د ګټې اخېستو وړ وګرځي.

**د زده کړې موخې:** د دې څپرکي له پای ته رسولو سره لوستونکي کولای شي:

۱- د لمټ مفهوم په اساسي بڼه درک کړي.

۲- لمټ تعریف کړي او د هغو په قوانینو پوه شي.

۳- دا $\frac{0}{0}$، $\frac{\infty}{\infty}$، $\infty - 0$ $\infty - \infty$ لمټونه محاسبه کړای شي.

٤- د مثلثاتي توابعو لمټ تعریف او د هغو سوالونه په سمه توګه حل کړي.

### د لمټ اساسي مفهوم

انټروال! په لغت کې فاصلې ته وایي، د ریاضي په اصطلاح کې د دوو مختلفو عددونو ترمنځ فاصلې ته انټروال وایي. انټر وال په درې ډوله دی:

۱. تړلی انټروال

۲. نیم پرانیستی انټروال

۳. پرانیستی انټروال

**۱. تړلی انټروال:** هغه انټر وال دی، چې د دوه نقطو د انجام درلودونکی وي.

لکه [8, 2] لوی قوس د تړلي قوس علامه راښیي.

د فورمول په شکل یې دارنګه نوشته کولای شو. $[\ xEIR : 2 \le x \le 8x]$

(c) ketabton.com: The Digital Library

په لاندې شکل ښودل کېږي، لکه ( ۱ ) شکل

(۱)شکل




**۲- نیم خلاص انتروال یا نیم تړلی انتروال:** هغه انتروال دی، چې یو انجام په کې داخل او بل پکې نه وي لکه.[2,8 ، ) (2,8 ] کوچنی قوس د خلاص والي علامه راښیي او لوی قوس د تړل کېدو علامه راښیي.

$A=[\ x\in IR/2>x<8]$

یعنې

$B=[\ x\in IR/2\leq x<8]$

(۲) شکل




(۳) شکل




**۳- خلاص انتروال:** هغه انتروال دی، چې د نقطو انجام په کې شامل نه وي.

مثال ( 3,1 ) یعنې $P=[\ x\in IR:3<x<11]$

**د یوې تابع حد یا د یوې تابع لمټ**

**مجاورت:** هر خلاص انتروال د خپلو شاملو عناصرو مجاورت وي، لکه(2,8 ) یو خلاص انتروال دی، چې له ۳ تر ۷ عناصر په هغه کې شامل دي او(2,8 ) انتروال د دې ټولو عناصرو مجاورت دی.

**متناظر مجاورت:** هر خلاص انتروال د خپل ځان وسطي متناظر مجاور وي، لکه(2,8 ) انتروال چې د متناظر مجاورت نقطه یې (٥) ده، باید وویل شي، چې د مجاورتونو هره نقطه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډېر متناظرونه لري.

که $(b,a)$ د $x$ عدد يو مجاورت وي، داسې چې $x$ د $(b,a)$ وسطي نقطه راښيي. دا چې $(b,a)$ د $x$ د متناظر مجاورت په نوم يادېږي.

مثلاً $(0,2)$ چې متناظر مجاورت د هغه دی، د $r$ د هر مثبت عدد لپاره $(r>0)$ $(c-r,\ c+r)$ د $C$ يو مجاورت وي (٤ شکل)




(٤) شکل

مخکې له دې چې لمټ (حد) تعريف کړو، هغه د مثالونو په واسطه واضح کوو او په (٦) شکل کې د ABC مثلث په نظر کې نيسو.

چې قاعده يې a=6cm او ارتفاع يې h=5cm او مساحت يې په F ښايو، لرو چې




$$f = a.h.\frac{1}{2}$$

(٥) شکل

$F=\frac{1}{2}.6.5=15cm$ که قاعده ثابته وساتو او ارتفاع ته يې تغير ورکړو؛ نو مساحت يې هم تغير کوي او د h تابع دی، يعنې $F(h)=\frac{1}{2}6.h$ چې په لاندې جدول کې د h او $F(h)$ ځينې قيمتونه ښودل شوي.

| | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| h | 5 | 3 | 1 | 0,5 | 0,2 | 0,1 | 0,02 | 0,001 |
| F(h) | 15 | 9 | 3 | 1,5 | 0,6 | 0,3 | 0,06 | 0,003 |

(c) ketabton.com: The Digital Library

له پورته جدول څخه معلومېږي، چې دh  په کمېدو  F(h)  هم کمېږي. هغه وخت چې h  او د F(h)مساحت صفر ته نیږدې کېږيF(h)  هم صفر ته تقرب کوي. په دې حالت کې ویلای شو چې دF(h) صفر دی  او په ریاضي کې یې په لاندې شکل لیکو:

$$\lim_{x\to 0} f(x) = 0$$

**مثال:** د $f(x) = x^2$  تابع په نظر کې نیسو،کله چې 2⟵x ته نیږدې کېږي f(h) کوم قیمت ته تقرب کوي.

| x | 1 | 1,5 | 1,9 | 1,99 | 1,99 | 1,999 | -2- | 2,001 | 2,01 | 2,02 | 2,1 | 2,5 | 3 |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| F(x) | 1 | 2,25 | 3,61 | 3,9601 | 3,980025 | 3,996001 | - 4- | 4,004001 | 4,04401 | 4,0804 | 4,41 | 6,25 | 9 |

په پورته جدول کې لیدل کېږي، کله چې x د 2  خواته  نیږدې کېږي F(x) د 4 خواته تقرب کوي.

یعنې

$$\lim_{n\to 2} f(x) = \lim_{n\to 2} x^2 = 4$$




شکل (6)

(c) ketabton.com: The Digital Library

په پورته مثال کې ليدل کېږي، چې د توابعو د لمټ د پيدا کولو لپاره په يو a کې د ذکر شوې نقطې په يوه مناسب مجاورت کې د تابع وضعيت مطالعه شو او مطلوب لمټ پيدا شو.
که دې لمټ ته د عمومي لمټ نوم ورکړو، ليکلی شو چې: $\lim_{x \to a} f(x) = b$
د b عدد د f د يوې تابع لمټ د a په نقطه کې يادېږي. که د N د هر مجاورت لپاره د b نقطه د D يومجاورت د a نقطه د f د تعريف په ناحيه کې موجود وي او د هر x لپاره عنصر له D د f(x) عنصرله N وي. يعنې $\lim_{x \to a} f(x) = b$ بايد ووايو حتمي نه ده، چې a په a ⟶ n د تعريف په ناحيه کې F شامل وي.

**د توابعو لمټ**

لمټ د تحول د اندازې د ټاکلو د نهايي قيمتونو او يا د توابعو له مخې مهم وي. د معاصرې رياضي عمومي مسايل له پخوا نه مشتق، سلسلې او نور له لمټ نه په ګټه اخيستو تعريف او توضيح کېږي.
د تحول تقرب (په يوه نقطه کې د يوې تابع ښي او کيڼ حد ته) ويل کېږي، چې x متحول د a ټاکلي عدد ته تقرب کوي، که چېرې په خپل زړه a ته نيږدې کېدای شي. يعنې د x او a تر منځ تفاوت له دواړو عددونو څخه کوچنی 8<0 تر ټولو کوچنی شي. پورته مفهوم په سمبوليک شکل دارنګه ليکل کېږي. $8 > 0 : |x - a| \angle 8$

Lim x=a يا x ⟶ a يا | x-a | ⟶ 0

له ښي خوا د متحول تقرب ( $x \to a^{+}$ ) که په يو متناقص تصاعدکې دx قيمتونه شتون ولري، داسې چې تدريجاً څومره يې چې زړه وغواړي a ته نيږدې شي، لکه:
$x \to a^{+}$ X: a+0, 1, a+0,01, a+0,001, a+0, 0001,……….

له کيڼې خوا د متحول تقرب ( $x \to a^{-}$ ) که چېرې متزايد تصاعد کې د x قيمتونه ټاکل کېدای شي، داسې چې تدريجاً په خپل زړه a ته نيږدې شي. دا رنګه
$x \to a^{-}$ X: a-0,1, a-0,01a-0,001,a-0,0001,……

بايد وويل شي، چې د x متحول تقرب a عدد ته معادل دی، دواړو خواوو ( ښي او کيڼ) ته له تقرب سره $x \to a \Leftrightarrow (x \to a^{+}, x \to a^{-})$

(c) ketabton.com: The Digital Library

**مثال:**

وښيئ چې $\lim_{x\to 3}(4x+8)=20$

**حل:** د اختياري عدد لپاره $\in > 0$ ( ابتسيلون) قبلوو، چې $\left(4X+8\right)-20 \angle \in$ وي $\delta > 0$ عدد تعينوو.

$\Rightarrow \left| \left(4X+8\right)-20 \right| \angle \in \Rightarrow \left| 4X-12 \right| < \in \Rightarrow$ دواړه خواوې په 4 تقسيموو چې

$\Rightarrow 4\left| X-3 \right| < \in \qquad \dfrac{4\left|X-3\right|}{4} < \in/4 \Rightarrow \left| X-3 \right| \in/4$

نو د $\delta = \in/4$ لپاره لرو، چې

$\Rightarrow 4\left|1-3\right| < \in \Rightarrow 4x-12 < \in \quad \left|x-3\right| < \delta \Rightarrow \left|x-3\right| < \in/4$

د 8 عدد جمع او منفي کوو $4x+8-8-12 < \in$

$\left|\left(4x+8\right)-20\right| < \in \Rightarrow Lim\left(4x+8\right)=20 \qquad 3 \quad x$

**دويم مثال:** د x متحول د 4 عدد ته تقرب کړی، دا $x \to 4$ مفهوم توضيح کړئ!

x:4,1 ,4,01,4,001,4,0001………. $4^{+}$

**حل**

x:3,9 ,3,99 ,3,999,3,9999……… $4^{-}$

په پای کې بايد ووايو، چې $x \to 4$

## د تابع لمټ

هر کله چې د f(x) تابع په يوه خلاص انتروال کې، چې د a عدد په هغې کې شامل دی. تعريف شوی وي د x متحول a ته په تقرب f(x) په خپله خوښه L عدد ته نيږدې شي، ويلای شو چې د f(x) تابع لمټ عبارت له Lڅخه دی.کله چې x، a تقرب وکړي، په لاندې شکل ليکو چې

$\lim_{x\to a} f(x) =$ يا $\lim_{x\to a} f(x) = 1$

**د لمټ تعريف:**

د f(x) تابع د Lعدد سره مساوي دی، کله چې $x \to a$ ته تقرب کړي.

که $\in > 0, \delta > 0 : \left|x-a\right| < f \Rightarrow \left|F(x)-L\right| < \in$

(c) ketabton.com: The Digital Library

$\in > 0, \delta >: a - \delta < x < a + f \Rightarrow l - \in < f(x) < l + \in$

دا چې:

$\in > 0, \delta > 0 : x \in (x - f, x + f) = f(x) \in (l - \in, l + \in)$

يا پورته تعريف په لاندې شکل ليکل کېداى شي.

$$\lim_{x \to a} f(x) = I \Leftrightarrow (|x - a| \to 0 \Rightarrow |f(x) - L| \to 0)$$




(۷) شکل

**ښي او کيڼ لمتونه**

:۱ د f(x) تابع د a په عدد کې د ښي لمټ لرونکې $L_1$ ده، که د هر $\in > 0$ لپاره د $\delta > 0$ کوچنی عدد شتون ولري، داسې چې

$x \in (a, a + \delta) \Rightarrow f(x) \in (L1 - \in, L1 + \in)$

$\lim_{x \to a} f(x) = l_1$ يا $\lim_{x \to a^+} f(x) = 1$

2 f(x) د تابع په a کې د کيڼ $L_2$ لرونکې ده، چې د هر $\in > 0$ لپاره د $\delta > 0$ يوعدد شتون لري، داسې چې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

$$x \in (a-\delta-a) \Rightarrow f(x) \quad (L2-\in, L2+\in)$$

او يايې په سمبوليک شکل ليکو چې

$$\lim_{\substack{x\to a \\ x\langle 2}} f(x) = l_2 \lim_{x\to a^-} f(x) \; = l_2$$

۳- د f(x) تابع هغه وخت چې $x \to a$ د L لمټ لرونکى وي.
په دې شرط چې $\lim_{x\to a}$ f(x) =L $\lim_{x\to a^-}$ f(x) =L= $\lim_{x\to a^+}$ f(x)

بايد ووېل شي هغه وخت، چې د يوې تابع ښي او کيڼ ليمټونه له يو بل سره مساوي نه وي د لمټ لرونکي نه ده.

**مثال:-** وښايه چې $\lim_{x\to 3} \frac{x^2-9}{x-3} = 6$

**حل:** فرضوو چې $0 <\in$ يو عدد $\delta$ موجود وي، داسې چې.

$$\left| \frac{x^2-9}{x-3} - 6 \right| <\in$$

دا چې $|x-3| < \delta$ وي، د $\delta$ اندازه د $\in$ له جنس څخه پيدا کوو.

$$\left| \frac{(x-3)(x+3)}{x-3} \right| - 6 <\in \qquad |x+3-6| <\in \Rightarrow |x-6| <\in$$

که $\in = \delta$ وي په نتيجه کې $|x-3|$ دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**مثال:** ثابت کړئ، چې $\lim_{x\to 5}(4x-3)=17$ دی.

**حل:** د هر متناظر مجاورت $(\in 2,\in 1)$ لري که چېرې $\in$ یو مثبت عدد $0<\in$ دی: د $(17-\in,17+\in)$ مجاورت لپاره $(\in 2,\in 1)$
باید $D=(a_1,a_2)$ مجاورت د 5 د عدد $(5\in D)$ پیدا کړو، داسې چې د هر $x$ لپاره له D
یا L $f(x)=4x-3$ په N کې شامل وي، یعنې

$$17\in\langle 4x-3\langle \quad 17+\in$$

$$20 \quad \in\langle 4x\langle 20+\in$$

دواړه خواوې په 4 تقسیموو $\frac{5.\in}{4}<x<5\frac{5+\in}{4}$

نو د $\frac{5.\in}{4}<x<5\frac{5+\in}{4}$ لپاره او همدارنګه $17-\in<4x-3<17+3$ صدق کوي.

نو $D=\frac{5.\in}{4}<x<5\frac{5+\in}{4}$ په نتیجه کې د هر x لپاره له D څخه f(x) په N کې شامل دی او که $\in=\frac{1}{2}$ فرض شي.

$$N=\left(17-\frac{1}{8},17+\frac{1}{8}\right)=(16.5. \quad 19.5) \quad D=\left(5-\frac{1}{8},5+\frac{1}{8}\right)=(4.875.5.125)$$

**د یوې تابع لمټ ته راجع قضیې**

**لومړی قضیه:** په عمومي ډول د هرې خطي تابع لرو چې $f(x)=mx+b$

$$\lim_{x\to a}(mx+b)=ma+b$$

**دويمه قضيه:** که $m=0$ وي د $f(x)=mx+b$ خطي تابع لاندې شکل اختیاروي. دې $f(x)=b$ تابع ته ثابته تابع وايي، چې لمټ یې په a کې له b سره مساوي دی. \

$$\lim_{x\to a} f(x)=\lim_{x\to a} b=b$$

**دریيمه قضيه:** که په خطي تابع کې $b=0$ وي او $m=1$ وي $f(x)=x$ تابع کېږي، دې ته د لمټ تابع ویل کېږي. د تابع لمټ د a په نقطه کې عبارت له a څخه دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

$$\lim_{x\to a} mx = ma \Rightarrow m = 1 \Rightarrow \lim_{x\to a} f(x) = \lim_{x\to a} x = a$$

**څلورمه قضیه:** که د g.f توابع د a په نقطه کې لمټ ولري، لاندې قضیې صدق کوي.

$$\lim_{x\to a} g(x) = c \qquad \lim_{x\to a} f(x) = b$$

د توابعو د جمعې د حاصل لمټ له مجموعې لمټونوسره مساوي دی.

$$\lim_{x\to a}(f+g)(x) = \lim_{x\to a} f(x) + \lim_{x\to a} g(x) = b + c$$

$$\lim_{x\to a}(f-g)(x) = \lim_{x\to a} f(x) - \lim(g(x) = b - c$$

**پنځمه قضیه:** په یوه نقطه کې د ضرب د حاصل لمټ مساوي دی په یوه نقطه کې د لیمټونو له ضرب سره

$$\lim_{x\to a}(f.g)(x) = \lim_{x\to a} f(x).\lim_{x\to a} g(x) = b.c$$

**شپږمه قضیه:** په یوه نقطه د خارج قسمت لمټ مساوي دی، د خارج قسمت لمټ د لمټونو په هغه نقطه کې په دې شرط چې $\lim_{x\to a} g(x) \neq 0$ وي

$$\lim_{x\to a} f(x)$$

$$\lim_{a\to x}\left(\frac{f}{g}\right)(x) = \frac{\lim_{x\to a} f(x)}{\lim_{x\to a} g(x)} = \frac{b}{a}$$

**اوومه قضیه:** که لمټ $\lim_{x\to a} f(x) = b$ او $\mu$ یو ثابت عدد وي، د تابع لمټ په هغه نقطه کې ضرب ثابت عدد دی.

$$\lim_{x\to a}(\mu f(x)) = \mu.\lim_{x\to a} f(x) = \mu.b$$

**اتمه قضیه:** د یوې جذري تابع لمټ په یوه نقطه کې مساوي د لمټ د جذر د هغه تابع په هغه نقطه کې که $\lim_{x\to a} f(x) = b$ وي یعنې

$$\lim_{x\to a}\sqrt[n]{f(x)} = \sqrt[n]{\lim_{x\to a}(f(x)} = \sqrt[n]{b}$$

که چېرې $\sqrt[n]{b}$ موجود وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**مثال:** د $\lim\limits_{x \leftarrow 4} \sqrt{x+5}$ لمټ پیدا کړئ!

$$\lim \sqrt{x+5} = \sqrt{\lim(x+5)} = \sqrt{4+5} = \sqrt{9} = 3$$

**نهمه قضیه:** که $\lim \frac{x^n - a^n}{x-a} = n_a^{n-1}$ وي نظر د مطابقتونو قانون ته لرو:

$$\lim_{x \to a} x^n - a^n = \lim_{x \to a}(x-a)(x^{n-1} + x^{n-2} \cdot a + x^{n-3} \cdot a^2 + \dots\dots + a^{n-1}$$
$$\Rightarrow \lim_{x \to a}(a^{n-1} + a^{n-2} \cdot a + a^{n-3} \cdot a^2 + \dots + a^{n-1}$$
$$\Rightarrow \lim_{x \to a}(a^{n-1} + a^{n-2} + a^{n-3} \cdot a + a^{n-3} + a^2 \dots\dots + a^{n-1} = a^{n-1}$$
$$\Rightarrow \lim_{x \to a}(a^{n-1} + a^{n-1} + a^{n-1} \cdot a + a^{n-1} + \dots\dots + a^{n-1} = n_a^{n-1}$$
$$\Rightarrow \lim_{x \to a} \frac{x^n - a^n}{x-a} = n_a^{n-1}$$

**مثال:** د $\lim\limits_{x \to 5} \frac{x^5 - 2^5}{x-2}$ پیداکړئ

**حل:** فورمول ته په کتو لرو، چې: $\lim\limits_{n \to a} \frac{x^n - a^n}{x-a} = na^{n-1}$

$$\lim_{x \to a} \frac{x^5 - 2^5}{x-a} = 5.2^4 = 80$$

**مثال:** $\lim\limits_{x \to a}(x^3 + 5x^2 - 3x + 7)$ پیداکړئ، که چېرې $x \to a$ ته تقرب وکړي

$$\lim_{x \to a}(x^a + 5x^2 - 3x + 7) = 2^2 + 5 \cdot 2^2 - 3 \cdot 2 + 7$$
$$= 8 + 20 - 6 + 7 = 29$$

(c) ketabton.com: The Digital Library

**مثال:** لاندې لمټ پيدا کړئ $\lim\limits_{x\to a}\dfrac{5x^3-6x^2-6x+2}{2x^2+3x-12}$

حل:

$$f(x)=5x^3+6x^2-6x+2$$
$$g(x)=2x^2-3x-12$$
$$\lim_{x\to a} f(x)=f(2)$$
$$\lim_{x\to 2} \quad g(x)=g(2)$$
$$\lim_{x\to a}\frac{f(x)}{2(x)}=\frac{\lim\limits_{x\to 2} f(x)}{\lim\limits_{x\to 2} g(x)}=\frac{f(2)}{g(2)}=$$
$$\Rightarrow \frac{5\cdot(2^3)-6(2^3)-6.2+}{2.(2^2)+3.2-12}=\frac{40-24-12+2}{8+6-12}=\frac{6}{2}$$
$$\Rightarrow \lim_{x\to 2}\frac{5x^3-6x^2-6x+2}{2x^2+3x-12}=3$$

**مثال:** $\lim\limits_{x\to 2}\dfrac{x^2-9}{x-3}=6$ وي، ثبوت کړئ.

**حل:** فرض کوو چې $\in>0$ د $\delta$ عدد موجود دی داسې چې

$$\left|\frac{x^2-9}{x-3}-6\right|\angle\in$$

کله چې $|x-3|<\in$ وي، د $\delta$ اندازه د $\in$ له جنسه لاسته راوړو

$$\left|\frac{(x-3)(x+3)}{x-3}-6\right|\angle\in$$
$$\Rightarrow x+3-6\angle\in\Rightarrow|x-3|\angle\in$$

داسې چې $\delta$ مساوي دی له $\in$ سره، اوس د $\angle\in$ $|$ $-6$ $|x-3|\angle\delta=x^2-9|$ لپاره

(c) ketabton.com: The Digital Library

$$\Rightarrow \lim_{x\to 3}\frac{x^2-9}{x-3}=6 \Rightarrow \lim_{x\to 3}\frac{(x-3)(x+3)}{x-3}=6$$
$$\Rightarrow x+3=6 \Rightarrow 3+3=6 \Rightarrow 6=6$$

**مثال:** $\lim_{x\to 3}\left(x^3-3x+2/x\right)$ پیداکړئ.

**حل:**

$$F(x)=\left(x^2-3x+2/x\right) \Rightarrow F(x)=\frac{x^3-3x^2+2}{x}$$
$$\Rightarrow F(x)=\frac{g(x)}{h(x)} \Rightarrow \lim_{x\to 3}F(x)=\lim_{x\to 3}\frac{x-3}{\operatorname{Lim}h(x)}$$
$$=\frac{g(3)}{h(3)}=\frac{(3^3)-3(3^2)+2}{3}=\frac{27-27+2}{3}=\frac{2}{3}$$

**مثال:** $\lim_{x\to 4}\frac{x^2-16}{x-4}$ پیداکړئ.

**حل:** $f(x)$ یو ه ناطقه تابع ده، یعني $f(x)=\frac{x^2-16}{x-4}$

دا چې $x\to 4$ صفر کېږي ا و 4 د f د تعریف په ناحیه کې شامل نه دی او $x\neq 4$ لاسته یې راوړو.

$$\lim_{x\to 4}F(x)=\lim_{x\to 4}\frac{x^2-16}{x-4}=\lim_{x\to 4}\frac{(x-3)(x+4)}{x-4}$$
$$\Rightarrow \lim_{x\to 4}(x+4)=4+4=8$$

### بې نهایت د تابع د لمټ په حیث

ویل کېږي، چې $\lim_{x\to 4}f(x)=\alpha$ که د خپلې خوښې Mڅخه لوی د هر عدد لپاره د $\delta$ مثبت پیدا شوی وي، داسې چې له $|x-a|<\in$ غیر مساوات څخه $|x-a|<\in$ غیر مساوات په لاس راځي لکه $\lim_{x\to 4}(x)=\alpha \Rightarrow M>0,\delta>0$ داسې چې $|x-a|<\delta \Rightarrow |F(x)|>M$ دلته دې شکل ته اوړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱- هر کله چې f(x)>M وي $\lim\limits_{x\to 4} f(x)=a$ دی.

۲- هر کله چې f(x)>M وي $\lim\limits_{x\to 4} f(x)=-a$ دی

**مثال:** پیدا کړئ چې $\lim\limits_{x\to a}\frac{2x+1}{x}=2$ دی

**حل:** د $\in>0$ عدد لپاره فرض کوو، چې $\left|\frac{2x+1}{x}-2\right|<\in$

$$\Rightarrow\left|\frac{2x}{x}+\frac{1}{x}-2\right|<\in\Rightarrow\left|2+\tfrac{1}{x}-\right|<\in$$

$$=\left|\frac{1}{x}\right|<\in\Rightarrow x>\frac{1}{\in}$$

که د $N=\frac{1}{\in}$ لپاره شرط دی $\lim\limits_{x\leftarrow a}\frac{2x+1}{x}=2$ سم دی.

**مثال:** $\lim\limits_{x\leftarrow a}\frac{x^2+2x}{x^2}$ محاسبه کړئ.

**حل:**

$$\lim_{x\to a}\frac{x^2}{x^2}=\lim_{x\to a}\frac{x^2(1+\tfrac{2}{x})}{x^2}=\lim_{x\to a}\left(1+\tfrac{2}{x}\right)$$

$$\lim_{x\to a}1+\lim_{x\to a}(\tfrac{2}{x})=1+0=1$$

**مثال:** په داسې حال کې چې $\lim\limits_{x\to a}2(x)=\alpha,\lim\limits_{x\to a}f(x)=\alpha$ پیداکړئ.

یعنې: $\lim\limits_{x\to 1}\frac{1}{1-x^2}=\infty$ ، $\lim\limits_{x\to 1}\frac{x}{1-x}=\infty$ وي.

**حل:**

$$\lim_{x\to 1}\frac{f(x)}{g(x)}=\lim_{x\to 1}\frac{\frac{1}{1-x^2}}{\frac{x}{1-x}}\Rightarrow\lim_{x\to 1}\frac{1}{1+x^2}\cdot\frac{1-x}{x}$$

$$=\lim_{x\to 1}\frac{1}{(1-x)(1+x)}\cdot\frac{1-x}{x}=\lim_{x\to 1}\frac{1}{x+x^2}=\frac{1}{1+1}=\frac{1}{2}$$

(c) ketabton.com: The Digital Library

که $F(x)=\lim\limits_{x\to 1}\frac{x}{1-x}$ وي او $2(x)=\lim\limits_{x\to 1}=\lim\limits_{x\to 1}\frac{1}{1-x^2}$ وي داسې حل کېږي.

$$\lim_{x\to 1}\frac{f(x)}{2(x)}=\lim_{x\to 1}\frac{\frac{x}{1}-x}{\frac{1}{1-x^2}}=\lim_{x\to 1}\frac{x}{1-x}\cdot 1-x^2$$

$$\lim_{x\leftarrow 1}x(1+x)=1+1=2$$

**مثال:** $\lim\limits_{x\to a}(2-x^2)=-a,\lim\limits_{x\to 1}(x^2+5)=a$

$$\Rightarrow \lim_{x\to a}\left[\left(x^2+5\right)+\left(2-x^2\right)\right]=\lim_{x\to a}(5+2)=7$$

**د لمټ محاسبه او ځيني مبهم حالات**

د لمټونو په محاسبه کې د ضرب د حاصل مجموعه او ځينې وخت د توابعو نسبت د مبهمو شکلونو $\infty-\infty,\infty-\infty,0-\infty,0,\frac{\infty}{\infty},\frac{0}{0}$ سره مخامخ کېږو، چې ځينې حالتونه يې په لاندې ډول دي.

۱- **په $\frac{0}{0}$ حالت کې:** که $\lim\limits_{x\to a}\frac{f(x)}{g(x)}$ $\frac{0}{0}$ ولرو، داسې چې F(x) ، g(x) پولينومي توابع وي،

په صورت او مخرج کې يې مشترک فکتور (x-a) دی.

او په بعضو حالاتو کې کېداى شي مضاعف او يا څو ځلي وي.

لومړی مثال-

$$\lim_{x\to 2}\frac{x^2-2}{x^2-4x+4}=\lim_{x\to 2}\frac{x(x-2)}{(x-2)(x-2)}$$

$$=\lim_{x\to 2}\frac{x}{x-2}=\frac{2}{2-2}=\frac{2}{0}=\infty$$

(c) ketabton.com: The Digital Library

**دويم مثال:** $\lim\limits_{h\to 0}\frac{(x+h^2)-x^2}{h}=\lim\limits_{h\to 0}\frac{x^2+2hx+h^2-x^2}{h}$

$$\Rightarrow \lim_{h\to 0}\frac{2hx+h^2}{h}=\lim_{h\to 0}\frac{h(2x+h)}{h}=\lim_{h\to 0}(2x+h)$$

$$\Rightarrow \lim_{h\to 0}\frac{(x+h^2)-x^2}{h}=2x$$

**مثال:** $\lim\limits_{x\to 2}\frac{x-\sqrt{x+2}}{\sqrt{4x+1-3}}$ پيدا کړئ!

**حل:** دا چې x=2 د $\frac{0}{0}$ شکل اختياروي، د لمټ د پيدا کولو لپاره د تابع صورت او مخرج د صورت او مخرج په مزدوج کې ضربوو، لرو چې:

$$\lim_{x\to 2}\frac{x-\sqrt{x+2}}{\sqrt{4x+1-3}}=\lim_{x\to 2}\frac{(x-\sqrt{x+2})(x+\sqrt{x+2})(\sqrt{4x+1+3})}{(\sqrt{4x+1-3})(\sqrt{4x+1+3})(x+\sqrt{x+2})}$$

$$=\lim_{x\to 2}\frac{(x^2-(x+2)(\sqrt{4x+1+3})(\sqrt{4x+1+3})}{\sqrt{4x+1-3}}=\lim_{x\to 2}\frac{(x-2)(x+1)(\sqrt{4x+1+3})}{4(x-2)(x+\sqrt{x+2})}$$

$$=\lim_{x\to 2}\frac{(x+1)(\sqrt{4x+1+3})}{4(x+\sqrt{x+2})}=\lim_{x\to 2}\frac{(2+1)(\sqrt{4.2+1+3})}{4(2+\sqrt{2+2})}=$$

$$=\frac{(3)(\sqrt{9+3})}{4(2+2)}=\frac{3.\overset{3}{\cancel{6}}}{4.\underset{2}{\cancel{4}}}=\frac{9}{8}$$

۲- $\frac{\infty}{\infty}$ **حالت:** کله چې $\lim\limits_{x\to\infty}\frac{F(x)}{g(x)}$ د $\frac{\infty}{\infty}$ شکل اختيار کړي، $\frac{F(x)}{g(x)}=\frac{\frac{1}{F(x)}}{\frac{1}{g(x)}}$

(c) ketabton.com: The Digital Library

په حالت کې د $\frac{\infty}{\infty}$ شکل ته بدلېږي. د دې طریقې په پیروۍ سره کولی شو ابهام رفع کړو؛ خو کېدای شي ځینې وخت سخت مثال هم آسانه حل شي. په دې حالت کې د کسر صورت او مخرج همزمان د متحول په لوړ طاقت تقسیموو، ابهام له منځه ځي، په دې شرط چې $\frac{\infty}{\infty}$ حالت د دوو توابعو په نسبت کې، چې له دې جملې څخه په پولینوم کې ښکاره شي.

**مثال:** هغه لمېتونه چې $\frac{\infty}{\infty}$ حالت لري، غواړو څو مثالونه یې د نمونې په شکل حل کړو.

$$a)\lim_{x\to\infty}\frac{3x^2-x+4}{x^2-12x+8}=\lim_{x\to\infty}\frac{x^2(3-\frac{1}{x}+\frac{4}{x^2})}{x^2(1-\frac{12}{x}+\frac{8}{x^2})}$$

$$=\lim_{x\to\infty}\frac{3-\frac{1}{x}+\frac{4}{x^2}}{1-\frac{12}{x}+\frac{8}{x^2}}=\frac{3-,+0}{1-0+0}=\frac{3}{1}=3$$

**دویم مثال:**

$$=\lim_{x\to\infty}\frac{8x+5}{6x+\sqrt{x}}=\lim_{x\to\infty}\frac{x(8+\frac{5}{x})}{x(6+\sqrt{\frac{x}{x}})}=\lim_{x\to\infty}\frac{8+\frac{5}{x}}{6+\sqrt{\frac{x}{x}}}$$

$$=\lim_{x\to\infty}\frac{8+\frac{5}{x}}{6+\sqrt{x}}=\lim_{x\to\infty}\frac{x8+\frac{5}{x}}{x(6+\sqrt{\frac{x}{x.x}})}=\lim_{x\to\infty}\frac{8+\frac{5}{x}}{6+\frac{1}{\sqrt{x}}}$$

$$=\frac{8}{6}=\frac{4}{3}$$

(c) ketabton.com: The Digital Library

**دریيم مثال:**

$$\lim_{x\to\infty}\frac{9x^2-x+5}{\sqrt{9x^4+1}}=\lim_{x\to\infty}\frac{x^2(9-\frac{1}{x}+\frac{5}{x^2})}{x^2\sqrt{9+\frac{1}{x^4}}}=$$

$$\Rightarrow \lim_{x\to\infty}=\lim_{x\to\infty}\frac{9}{\sqrt{9}}=\frac{9}{3}=3$$

**څلورم مثال:**

$$\lim_{x\to\infty}\frac{2x^2-x+3}{x^2-8x+5}=\lim_{x\to\infty}\frac{x^2(2-\frac{1}{x}+\frac{3}{x^2})}{x^2(1-\frac{8}{x}+\frac{5}{x^2})}$$

$$=\lim_{x\to\infty}\frac{2+\frac{1}{x}+\frac{3}{x^2}}{1-\frac{8}{x}+\frac{5}{x^2}}=\frac{2}{1}=2$$

**۳- دریيم حالت** $(0\ \infty)$ **:**

$\lim_{x\to a}\{F(x).g(x)\}$ ممکنه ده په $0.\infty$ شکل وي، په دې حالت کې لمټ د $F(x)\,g(x)=\dfrac{F(x)}{\dfrac{1}{g(x)}}$ $\dfrac{0}{0}$ شکل اختیاروي، موږ لاندې مثالونه د نمونې په شکل حل کوو.

مثال:

$$\lim_{x\to5}\left[(x^2-25).\frac{1}{x-5}\right]=\lim_{x\to5}\frac{x^2-25}{x-5}=$$

$$=\lim_{x\to5}\frac{(x-5)(x+5)}{x-5}=\lim_{x\to5}(x+5)=5+5+10$$

(c) ketabton.com: The Digital Library

**دويم مثال:**

$$\lim_{x\to4}\left[(x^2-16.)\frac{1}{x-4}\right]=\lim_{x\to4}\frac{x^2-16}{x-4}$$

$$=\lim_{x\to4}\frac{(x-4)(x+4)}{x-4}=\lim_{x\to4}(x+4)=4+4=8$$

**دریيم مثال:** $\lim_{x\to a}\frac{\sqrt[5]{x}-\sqrt[5]{a}}{x-a}$ مقدار محاسبه کړئ!

که $x=y^5$ او $a=b^5$ فرض کړو، لرو چې:

$$\lim_{x\to a}\frac{\sqrt[5]{x}-\sqrt[5]{a}}{x-a}=\lim_{x\to b}\frac{y-b}{y^5-b^5}=\lim_{x\to b}\frac{y-b}{(y-b)(y^4+y^3b+y^2b^2+yb^3+b^4)}$$

$$=\lim_{x\to a}\frac{1}{y^4+y^3b+y^2b^2+yb^3+b^4}=\frac{1}{5b^4}=\frac{1}{5.\sqrt[5]{a^4}}$$

**4- $\infty-\infty$:**

که $\lim_{x\to\infty}[f(x)-g(x)]$ د $\infty-\infty$ شکل ولري.

په دې حالت کې $f(x)-g(x)=f(x)(1-\frac{g(x)}{f(x)})$ یو له دغو $\frac{\infty}{\infty}$ او یا $\infty-0$ حالاتو ته اوړي، باید یاده شي، چې که د دوو کسرونو د تفاضل حالت او یا د جذرونو د تفاضل شکل اختیار کړي، د یو بل څخه د کسرونو د تفریق کولو، په مزدوجونو باندې د جذري افادو ضرب او تقسیم په نتیجه کې ابهام د حذف قابل وي.

**مثال:** $\lim_{x\to\infty}(\sqrt[5]{x+1}-\sqrt[5]{x}$ لمټ محاسبه کړئ!

**حل:**

$$\lim_{x\to\infty}(\sqrt{x+1}-\sqrt{x})=\lim_{x\to\infty}\frac{(\sqrt{x+1}-\sqrt{x})(\sqrt{x+1}+\sqrt{x})}{(\sqrt{x+1}-\sqrt{x})}$$

$$\lim_{x\to\infty}\frac{x+1-x}{\sqrt{x+1}+\sqrt{x}}=\lim_{x\to\infty}\frac{1}{\sqrt{x+1}+\sqrt{x}}=0$$

(c) ketabton.com: The Digital Library

**دويم مثال:** $\lim_{x\to 1}(\frac{1}{1-x}-\frac{1}{1-x^2})$ پيدا کړئ!

$$\lim_{x\to 1}(\frac{1}{1-x}-\frac{1}{1-x^2})=\lim_{x\to 1}\frac{1+x-1}{1-x^2}=\lim_{x\to 1}\frac{x}{1-x^2}=\infty$$

$$\lim_{x\to\infty}(x^5-8x^3)=\lim_{x\to\infty}[x^5(1-\frac{8}{x^2})]=\infty.1=\infty$$

**خلورم مثال:** $\lim_{x\to\infty}(x-\sqrt{x^2+5x+1}$ لمټ پيدا کړئ!

$$\lim_{x\to\infty}(x-\sqrt{x^2+5x+1}=\lim_{x\to\infty}\frac{(x-\sqrt{x^2+5x+1})(x+\sqrt{x^2+5x+1})}{x+\sqrt{x^2+5x+1}}$$

$$\lim_{x\to\infty}\frac{x^2-x^2-5x-1}{x+\sqrt{x^2+5x+1}}=\lim_{x\to\infty}\frac{-5x-1}{x+\sqrt{x^2+5x+1}}\Longrightarrow\lim_{x\to\infty}\frac{x(-5-\frac{1}{x})}{x+\sqrt{x^2+5x+1}}=$$

$$\lim_{x\to\infty}\frac{x(-5-\frac{1}{x})}{x(1+\sqrt{x^2+\frac{5}{x}+\frac{1}{x^2}})}=\lim_{x\to\infty}\frac{-5-\frac{1}{x}}{1+\sqrt{1-\frac{5}{x}+\frac{1}{x^2}}}=\frac{-5}{1+1}=-\frac{5}{2}$$

**پنځم مثال:** $\lim_{x\to\infty}(\sqrt[5]{x}-\sqrt[5]{x+1})$ پيدا کړئ!

$$\lim_{x\to\infty}(\sqrt{x}-\sqrt{x+1})$$

$$\lim_{x\to\infty}(\sqrt{x}-\sqrt{x+1})=\lim_{x\to\infty}\frac{(\sqrt{x}-\sqrt{x+1})(\sqrt{x}+\sqrt{x+1})}{\sqrt{x}+\sqrt{x+1}}=\lim_{x\to\infty}\frac{x-x+1}{\sqrt{x}+\sqrt{x+1}}$$

$$=\lim_{x\to\infty}\frac{-1}{(\sqrt{x}+\sqrt{x+1})}=\frac{-1}{\infty}=0$$

## بې نهايت د لمټ په حيث په بې نهايت کې

دا چې $\lim_{x\to\infty} f(x)=\infty$ دی، که د هر لوی او M مثبت عدد لپاره د N يو مثبت عدد وټاکل شي، داسې چې د $|x|>N$ غير مساوات څخه د $|f(x)|>M$ غير مساوات لاس ته راشي، په سمبوليک شکل داسې ليکو.

$$\lim_{x\to\infty} f(x)=\infty\Leftrightarrow M>0,N>0/|x|>N\Rightarrow f(x)<M$$

(c) ketabton.com: The Digital Library

په پورتنيو تشبحاتو کې څلور حالته مطرح کېږي، چې عبارت دي له:

$$1) x > N : f(x) > M \Rightarrow \lim_{x\to\infty} f(x) = \infty$$

$$2) x < -N : f(xM < -M \Rightarrow \lim_{x\to-\infty} f(x) = -\infty$$

$$3) x < -N : f(x) > M \Rightarrow \lim_{x\to\infty} f(x) = \infty$$

$$4) x > N : f(x) < -M \Rightarrow \lim_{x\to\infty} f(x) = -\infty$$

**د توابعو محدوديت**

1- f(x) تابع په يوه نقطه کې محدوده نومېږي، څکه چې $|f(x)|$ قيمتونه د M له يوه ټاکلي عدد څخه لوبېدلی شي، يعنې $|f(x)| \le M$.

2- f(x) تابع کله چې $x \to a$ محدوده وي، که په يوه (a-f,a+f) مجاورت کې د a څخه محدوده وي.

3- f(x) تابع د $x \to \infty$ لپاره محدوده ده، که د N مثبت عدد موجود کړی شي، د هر x لپاره د $|x| > N$ تابع f(x) محدوده ده ، لکه f(x)=cosx په IR کې محدوده ده او $g(x) = \frac{x+1}{x}$ تابع د $x \to \infty$ لپاره محدوده ده.

بې نهايت کوچنۍ توابع

د d(x) تابع په $x \to a$ کې بې نهايت کوچنۍ نومېږي، که $\lim_{x\to a} d(x) = 0$ وي.

۱: د دې لپاره چې $\lim_{x\to a} d(x) = b$ وي، لازمه او کافي ده، چې f(x) د b ثابت عدد د مجموعې په حيث او د d(x) بې نهايت کوچنۍ تابع په $x \to a$ وړاندې کېدی شي، يعنې:

$$\left.\begin{array}{l} f(x) = b + d(x) \\ \lim_{x\to a} d(x) = 0 \end{array}\right\} \Rightarrow \lim_{x\to a} f(x) = b$$

۲- کله چې d(x) په $x \to a$ کې بې نهايت کوچنی وي، چې صفر نه شي؛ نو

$$\lim_{x\to a} \frac{1}{d(x)} = \infty$$

۳- د بې نهايت کوچنيو توابعو مجموعه بيا هم يوه بې نهايت کوچنۍ تابع ده.

4- د بې نهايت کوچنۍ تابع د ضرب حاصل او محدوده تابع يوه بې نهايت کوچنۍ تابع وي.

۵- هرکله d(x) بې نهايت کوچنی او u(x) داسې تابع، چې لمټ يې صفر کېدای نه شي؛ نو $v(x) = \frac{d(x)}{u(x)}$ تابع بې نهايت کوچنۍ ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مثال: $d(x)=x^2-4$ تابع بې نهایت کوچنی ده، ځکه چې که $x\to 2$ تقرب وکړي.

$$\lim_{x\to 2}(x^2-4)=4-4=0$$

**دویم مثال:** $d(x)=x^2-4$ په $x\to 3$ بې نهایت کوچنی ده.

$$\lim_{x\to 3}(x^2-9)=(3)^2-9)=9-9=0$$

**دریم مثال:** $d(x)=\frac{1}{2x}$ په $x\to\infty$ بې نهایت کوچنی ده.

$$\lim_{x\to\infty} d(x)=\lim_{x\to\infty}\frac{1}{2x}=0$$

**څلورم مثال:** $d(x)=x^3-27$ تابع په داسې حال کې $x\to 3$ $\lim_{x\to 3} d(x)=\lim_{x\to 3}(x^3-27)$ بې نهایت کوچنی ده.

$$\lim_{x\to 3}((3)^3-27)=0$$

۵- $f(x)=\frac{2}{5x^2-6x}$ تابع په $x\to\infty$ بې نهایت کوچنی ده، ځکه چې:

$$\lim_{x\to\infty} f(x)=\lim_{x\to\infty}\frac{2}{5x^2-6x}=\frac{2}{\infty}=0$$

**د مثلثاتي توابعو لمټ**

مخکې له دې چې د مثلثاتي توابعو لمټ تشریح کړو، مثلثاتي توابعو ته په لاندې ډول شرح ورکوو، چې مثلثاتي توابع یې عبارت دي له:

y=sinx

y=cosx

y=tanx

y=cotx

y=secx

y=csex

د دغو توابعو لمټ ، په داسې حال کې چې $x\to 0$ وي، په لاندې ډول یې لاس ته راوړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

$$1)\lim_{x\to 0}\sin x =\prime$$

$$2)\lim_{x\to 0}\cos x = 1\prime$$

$$3)\lim_{x\to 0}\tan x = 0$$

$$4)\lim_{x\to 0}\cot x = \infty\prime$$

$$5)\lim_{x\to 0}\sec x = 1\prime$$

$$6)\lim_{x\to 0} csex = \infty$$

**د مثلثاتي نسبتونو تعریف**

کله چې $\alpha$ زاویه په ستندرد حالت کې د (x,y) اختیاري نقطه د دویمې ضلعې د دغې زاویې غیر د مبداء څخه وي او وروسته $r=\sqrt{x^2+y^2}$ مساحت د (0,0) او (x,y) نقطو تر مینځ وي، د $\alpha$ زاویې مثلثاتي نسبتونه عبارت دي له:

$$\sin\alpha = \frac{y}{r}' \qquad \cos\alpha = \frac{x}{r}$$

$$\tan x = \frac{y}{x}' \qquad \cot\alpha = \frac{x}{y}$$

$$\sec x = \frac{r}{x}' \qquad \cos s\alpha = \frac{r}{y}$$




(۸) شکل

$$\tan\alpha = \frac{\frac{y}{r}}{\frac{x}{x}} = \frac{\sin\alpha}{\cos\alpha}$$

$$\cot\alpha = \frac{x}{y} = \frac{\frac{x}{r}}{\frac{y}{r}} = \frac{\cos\alpha}{\sin\alpha}$$

(c) ketabton.com: The Digital Library

باید وویل شي، چې په پورته څلور ګونو حالاتو کې مخرجونه صفر نه وي، اساسي رابطه د مثلثاتي نسبتونو ترمنځ په لاندې ډول ده.

$$\sec\alpha = \frac{r}{x} = \frac{\frac{r}{r}}{\frac{x}{r}} = \frac{1}{\cos\alpha}$$

$$\cos e\ \alpha = \frac{r}{y} = \frac{\frac{r}{r}}{\frac{y}{r}} = \frac{1}{\sin\alpha}$$

$$\sin^2\alpha = \cos^2\alpha = (\frac{y}{r})^2 + (\frac{x}{r})^2 = \frac{x^2+y^2}{r^2}$$

دا چې $x^2+y^2=r^2$ دی، په پورته معادله کې یې د هغه په ځای وضع کوو.

$$\sin^2\alpha = \cos^2\alpha = (\frac{y}{r})^2 + (\frac{x}{r})^2 = \frac{x^2+y^2}{r^2}$$

همدا ډول $1+\cot^2\alpha = \cos c^2\alpha$ په لاس راځي.

**د مثلثاتي توابعو لمټ**

د مثلثاتي توابعو د لمټ په محاسبه کې امکان لري، چې د ابهام حالت منځته راشي، په دا ډول لمټ کې د ابهام له مختلفو شکلونو څخه مهم شکل $\frac{0}{0}$ دی او دا حالت د یوه عمده فکتور د تشخیص په واسطه، چې د $\sin x$ نسبت او د x زاویه ده رفع کړو، مورږ په مثلثاتو کې د $y=\sin x$ او $y=\cos x$ توابع پېژنو، کله چې x صفر ته نږدې کېږي د $\sin x$ تابع صفر ته تقرب کوي، یعنې $\lim_{x\to 0}\sin x = 0$، چې دا د $y=\sin x$ ګراف په شکل ښه درک کولای شو. (۱)شکل

په همدې ترتیب کله چې x د (۱) خواته تقرب وکړي، یعنې $\lim_{x\to 0}\cos x = 1$، په (۲) شکل کې د cosx ګراف په ښه ډول سره ښیو، معلومېږي چې د y قیمت په صفري نقطه کې له یوه سره مساوي دی. شکل (2)

**قضیه:**

کله چې د x زاویه د صفر خواته تقرب کوي، د sin او x نسبت د 1 خواته تقرب کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

$$\lim_{x\to D}\frac{\sin x}{x}=1$$

**ثبوت:** د x زاویه لکه څنګه چې $0<x<\frac{\Pi}{2}$ ده، د r له شعاع سره مرکزي زاویه په نظر کې نیسو، لکه د (۴) شکل، د دوو $\overset{\Delta}{OAM},\overset{\Delta}{OAC}$ مثلثونو مساحتونه د OAM قطاع د ذکر شوې دایرې سره مقایسه کوو، لرو چې:

(۴)شکل

د $<OAC$ مثلث مساحت، د $<OAM$ قطاع مساحت، د OAM مثلث مساحت او همدارنګه د مثلثونو او قطاع مساحت په ځانګړي ډول محاسبه کوو، لرو چې:

د مثلث مساحت OAM $=\frac{1}{2}\overline{OA}\cdot\overline{BM}=\frac{1}{2}r\cdot\overline{BM}$

د قطاع مساحت OAM $=\frac{1}{2}xr^2$

د مثلث مساحت OAC $=\frac{1}{2}\overline{OA}\cdot\overline{AC}=\frac{1}{2}r\cdot\overline{AC}$

بنا پر دې د (4) شکل د مضاعفونو تساوي لاندې شکلونه اختیاروي:

$$=\frac{1}{2}r\overline{BM}<\frac{1}{2}xr^2<\frac{1}{2}r\overline{AC}..............2$$

د 2 رابطې اطراف په $\frac{2}{r^2}$ کې ضربوو، اخرنې نامساوات لاندې شکل ځانته اختیاروي.

$$\frac{2}{r^2}\cdot\frac{1}{2}r\cdot\overline{BM}<\frac{2}{r^2}\cdot\frac{1}{2}xr^2<\frac{1}{2}r\overline{AC}\frac{2}{r^2}\Rightarrow\frac{\overline{BM}}{r}<x<\frac{\overline{AC}}{r}$$

دا چې $\frac{\overline{BM}}{r}=\sin x$ او $\frac{\overline{AC}}{r}=\tan x$ دی، د دې پر ځای په پورتنۍ رابطه کې وضع کوو.

$$\sin x<x<\tan x$$

$$\sin x<x<\frac{\sin x}{\cos x}$$

**ټول پورتني حدونه په sinx تقسیموو، لرو چې:**

(c) ketabton.com: The Digital Library

$$\frac{\sin x}{\sin x}<\frac{x}{\sin x}<\frac{\frac{\sin x}{\cos x}}{\sin x}\Rightarrow 1<\frac{x}{\sin x}<\frac{1}{\cos x}$$

ټول حدونه معکوسوو

$$1>\frac{\sin x}{\cos x}<\cos x$$

$$\Rightarrow \cos x<\frac{\sin x}{x}<1$$

$$\lim_{x\to 0}\cos x<\lim_{x\to 0}\frac{\sin x}{x}<\lim_{x\to 0}1$$

$$\lim_{x\to 0}\frac{\sin x}{x}=1$$

**د ټولو حدونو لمټ اخلو، ګورو چې:**

فلهذا په نتيجه کې

**لومړی مثال:** $\lim\limits_{x\to 0}\frac{tgx}{x}$ لمټ محاسبه کړئ، که چېرې $x\to 0$ وکړي.

$$\lim_{x\to 0}\frac{\tan x}{x}=\lim_{x\to 0}\frac{\frac{\sin x}{\cos x}}{x}=\lim_{x\to 0}\frac{\sin x}{\cos x}\cdot\frac{1}{x}=(\lim_{x\to 0}\frac{\sin x}{x})(\lim_{x\to 0}\frac{1}{\cos x})=1\cdot 1=1$$

**دويم مثال:** $\lim\limits_{x\to 0}\frac{\sin^2 x}{1-\cos x}$ لمټ محاسبه کړئ، که چېرې $x\to 0$ وکړي.

$$\lim_{x\to 0}\frac{\sin^2 x}{1-\cos x}=\lim_{x\to 0}\frac{1-\cos^2 x}{1-\cos x}=$$

$$=\lim_{x\to 0}\frac{(1-\cos x)(1+\cos x)}{1-\cos x}=\lim_{x\to 0}(1+\cos x)=1+1=2$$

**درېيم مثال:** $\lim\limits_{x\to 0}\frac{\tan x}{\sin x}$ لمټ محاسبه کړئ، که چېرې $x\to 0$ وکړي.

$$\lim_{x\to 0}\frac{\tan x}{\sin x}=\lim_{x\to 0}\frac{\frac{\sin x}{\cos x}}{\sin x}=\lim_{x\to 0}\frac{\sin x}{\cos x}\cdot\frac{1}{\cos x}$$

$$=\lim_{x\to 0}\frac{1}{\cos x}$$

**څلورم مثال:** $\lim\limits_{x\to 0}\frac{\sin(a\cdot x)}{x}$ محاسبه کړئ، که چېرې $x\to 0$ ته تقرب وکړي.

**حل:**

$$\lim_{x\to 0}\frac{\sin(a\cdot x)}{x}=\lim_{x\to 0}\frac{a\cdot\sin(a\cdot x)}{ax}=a\lim_{x\to 0}\frac{\sin(a\cdot x)}{ax}=a\cdot 1=a$$

$$\Rightarrow \lim_{x\to 0}\frac{\sin(a\cdot x)}{ax}=a$$

(c) ketabton.com: The Digital Library

**پنځم مثال:** $\frac{1-\cos x}{x^2}$ لمټ محاسبه کړئ، که چېرې $x \to 0$ ته تقرب وکړي.

$$\lim_{x\to 0}\frac{1-\cos x}{x^2}=\lim_{x\to 0}\frac{(1-\cos x)(1+\cos x)}{x^2(1+\cos x)}=\lim_{x\to 0}\frac{1-\cos^2 x}{x^2(1+\cos x)}$$

$$=\lim_{x\to 0}\frac{\sin^2 x}{x^2(1+\cos x)}=(\lim_{x\to 0}\frac{\sin^2 x}{x^2})(\lim_{x\to 0}\frac{\sin^2 x}{x^2(1+\cos x)})=1\cdot\frac{1}{2}=\frac{1}{2}$$

**شپږم مثال:** $Lim\frac{\sin 8x}{x}$ لمټ محاسبه کړئ، که چېرې $x \to 0$ ته تقرب وکړي.

$$\lim_{x\to 0}\frac{\sin 8x}{x}=\lim_{x\to 0}\frac{8\cdot\sin 8x}{8x}=8\lim_{x\to 0}\frac{\sin 8x}{8x}=8\cdot 1=8$$

یا په بل عبارت، $8x=y$ نیسو او په پورتنۍ معادله کې یې وضع کوو.

$$\lim_{x\to 0}\frac{\sin 8x}{x}=\lim_{x\to 0}\frac{8\cdot\sin 8x}{8x}=8\lim_{x\to 0}\frac{\sin 8y}{8y}=8\cdot 1=8$$

**اووم مثال:** $Lim x\cot x$ لمټ پیدا کړئ، که چېرې $x \to 0$ ته تقرب وکړي.

$$\lim_{x\to 0}\cot x=\lim_{x\to 0}x\frac{\cos x}{\sin x}=\lim_{x\to 0}\frac{\cos x}{\frac{\sin x}{x}}=Limc\cos x\cdot Lim\frac{1}{\frac{\sin x}{x}}=1\cdot 1=1$$

**اتم مثال:** $\lim_{x\to 0}\frac{5\cdot\sin 6x}{x}=$ پیدا کړئ.

**حل:** کوښښ کوو چې یو ضربي عامل د $\frac{\sin y}{y}$ په شکل لاسته راوړو، صورت او مخرج په 6 کې ضربوو، $6x=y$ وضع کوو، لرو چې:

$$\lim_{x\to 0}\frac{5\cdot\sin 6x}{x}=\lim_{x\to 0}\frac{6\cdot 5\cdot\sin 6x}{6x}=30Lim\frac{\sin 6x}{6x}=30Lim\frac{\sin 6y}{6y}=$$

$$=30\cdot 1=30\Rightarrow \lim_{x\to 0}\frac{5\cdot\sin 6x}{6x}=30$$

**نهم مثال:** $\frac{\sin 2x+tagx}{2\tan 3x+\sin x}$ لمټ محاسبه کړئ، که چېرې $x\to 0$ ته تقرب کړی وي.

$$\lim_{x\to 0}\frac{\sin 2x+\tan x}{2\tan 3x+\sin x}=\lim_{x\to 0}\frac{2x\frac{\sin 2x}{2x}+\frac{x\sin x}{x\cos x}}{3x\frac{2\tan 3x}{3x}+\frac{\sin x}{x}}=\frac{(x\frac{\sin^2 x}{2x}+\frac{\sin x}{x\cos x})}{(x\frac{6\tan 3x}{3x}+\frac{\sin x}{x})}=$$

$$Lim\frac{(2\lim_{x\to 0}\frac{\sin y}{y}+\lim_{x\to 0}\frac{\sin x}{x}\lim_{x\to 0}\frac{1}{\cos x})}{(2\lim_{x\to 0}\frac{\sin 3x}{3x}\cdot\lim_{x\to 0}\frac{1}{\cos x}+\lim_{x\to 0}\frac{\sin x}{x})}=\frac{2+1\frac{1}{1}}{6\cdot 1\frac{1}{1}+1}=\frac{3}{7}$$

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د لومړي څپرکي پوښتنې

د لاندې توابعو لمټ محاسبه کړئ؟

1) $\lim\limits_{x\to 2}\frac{\sqrt{x}-1}{x-1}=?$

2) $\lim\limits_{x\to\infty}\frac{x^3}{x^2+1}-x=?$

3) $\lim\limits_{x\to 2}\frac{x^2+5}{x^2-3}=?$

4) $\lim\limits_{x\to 1}\frac{1}{1-x}\frac{1}{1-x^2}=?$

5) $\lim\limits_{x\to 2}\frac{x^4-16}{x-1}=?$

6) $\lim\limits_{x\to a}\frac{x^2-a^2}{x-a}=?$

7) $\lim\limits_{x\to\infty}(x-\sqrt{x})=?$

8) $\lim\limits_{x\to 2}\frac{x^2 3ax+2a^2}{x^2-2ax-3a^2}=?$

9) $\lim\limits_{x\to 2}\frac{2x^2-11+5}{x^2+x}=?$

10) $\lim\limits_{x\to 2}(x^2-2x+\frac{4}{x})=?$

11) $\lim\limits_{x\to 0}\frac{\sqrt{x^2+1}}{x+1}=?$

12) $Lim(\sqrt{x\ +a}-\sqrt{x}\ =?$

13) $\lim\limits_{x\to 2}\frac{x^2-4}{x}=?$

14) $\lim\limits_{x\to 0}\frac{x\ +4}{x^2+x}=?$

15) $\lim\limits_{x\to\infty}\frac{4}{x^2}-\frac{3}{x}+4=?$

16) $\lim\limits_{x\to 0}\frac{\sqrt{x+h}-h}{h}=?$

د لاندې توابعو لمټ په لاس راوړئ؟

1) $\lim\limits_{x\to 1}\frac{\tan 8x}{\tan 2x}=?$

2 $\lim\limits_{x\to 0}\frac{\tan x}{x}=?$

3) $\lim\limits_{x\to 0}\frac{1-\cos x}{\tan^2 x}=?$

4) $Lim\frac{8\sin 5x}{x}=?$

5) $\lim\limits_{x\to 0}\frac{\sin x+\sin a}{x-a}=?$

6) $\lim\limits_{x\to 0}\frac{1-\cos\alpha}{a^2}=?$

7) $\lim\limits_{x\to 0}\frac{\sin 2\alpha}{\sin\alpha}=?$

8) $\lim\limits_{x\to 0}\frac{\sin(12x)}{\sin(4x)}=?$

9) $\lim\limits_{x\to 0}\frac{\tan 8x}{tna2x}=?$

10) $\lim\limits_{b\to 1}\frac{\sin(b^2-1)}{b^2-1}=?$

11) $\lim\limits_{x\to 0}(x\sin\frac{1}{x})=?$

12) $\lim\limits_{x\to 0}\frac{1-\sqrt{\cos x}}{x^2}=?$

13) $\lim\limits_{x\to 1}\frac{\sin\pi x}{\sin 3\pi x}=?$

14) $\lim\limits_{x\to 0}\frac{\sin x-\cos x}{1-\tan x}=?$

15) $\lim\limits_{x\to 0}\frac{1-\cos y}{y\cdot\sin y}=?$

16) $\lim\limits_{x\to 0}\frac{1-\cos x}{\tan^2 2x}=?$

17) $\lim\limits_{x\to 0}\frac{6-6\cos^2 y}{y^2}=?$

18) $\lim\limits_{x\to 0}\frac{x-\sin 2x}{x+\sin 3x}$

19) $\lim\limits_{x\to 0}(8x\cot g4x)=?$

20) $\lim\limits_{x\to 0}\frac{\sin^2 x-x^2}{4x^2}$

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دویم څپرکی

## مشتق

**ټولیزه موخه:**
د مشتق او دهغه اصول پیژندل، همدارنګه د مثلثاتي او لوګارتمي توابعو له مشتقاتو سره آشناییږ.

**د زده کړې موخې:** د دې څپرکي په پای ته رسولو سره به محصلین په لاندې برخو کې پوره پوهه ترلاسه کړي:

۱- د مشتق تعریف او د هغې د اړوندو پوښتنو حل.
۲- د مشتق قواعد او اصول په صحیح ډول پېژندل او له هغې څخه د ګټې اخیستنې طریقه.
۳- د مثلثاتي توابعو د مشتقاتو تعریف او د هغې د اصولو او قواعدو پېژندل.
٤- د لوګارتمي توابعو مشتقاتو تعریف، قواعد او د مشتق نیولو د اصولو پېژندل.
٥- د دویمو او له هغې څخه د لوړو مشتقاتو پېژندل او د هغې د اړوندو پوښتنو حل کول.

د اوولسمې پېړۍ په لومړیو کې د پیر فرما فرانسوي ریاضي پوه اسحق نیوتن (انګلیسي) ولایپ نیتزد (الماني) په واسطه د مشتق بنسټ کېښودل شو، چې نن ورځ د ډېرو مهمو او اساسي اقتصادي مسایلو، تفاضلي حساب او انتیګرال اړوند معاصرې ریاضي او نور د مشتق د مفهوم په اساس رامنځته شوي دي او دا چې مشتق یو ډېر اوږد بحث دی؛ نو کوښښ کوو، چې په واضح ډول یې وځېړو کړو.

**د مشتق تعریف:** د Y تابع په متحول کې د نسبي تغیر پیدا کول د یو وارد شوي تغیر په اساس په یو مستقل متحول کې، یعنې $y = f(x)$. او که د x متحول قیمت تغیر وکړي؛ نو د وارد شوي تغیر پیدا کول په نسبي شکل د Y تابع په متحول کې په $\frac{\Delta x}{\Delta y}$ شکل سره ښودل کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

يا په بل عبارت مشتق عبارت دی د تابع د تزايد لمېټ د مستقل متحول پرتزايد باندې، که چېرې د مستقل متحول تزايد د صفرخواته تقرب کوي.

يعنې $\lim_{x\to 0}\frac{\Delta x}{\Delta y}$ وکړي. بايد يادونه وشي چې د مشتق د ښودلو لپاره د تابع د پاسه يو زور نوشته کوو، يعنې د $f'(x)$ د $f(x)$ مشتق او $g(x)$ د $g(x)$ مشتق او $d'(x)$ د $d(x)$ او $h'(x)$ د $h(x)$ مشتق وي دا چې په يوه نقطه کې د تابع مشتق په شکل $\frac{\Delta y}{\Delta x}$ يا $\frac{dy}{dx}$ په عمومي صورت د تابع مشتق په $f'(x)\lim_{x\to a}\frac{f(x)-f(a)}{x-a}$ شکل ليکو.

**مثال:** $f(x)=x^2$ مشتق پيداکړئ!

$$f'(x)''\lim_{x\to a}\frac{f(x)-f(a)}{x-a}=\lim_{x\to a}\frac{x^2-a^2}{x-a}$$

**حل:**

$$\lim_{x\to a}\frac{(x-a)(x+a)}{x-a}=\lim_{x\to a}(x+a)=a+a=2a$$

**مثال:** د $y=3x^2-5$ تابع د ګراف ميل په $(2,0)$ نقطه کې پيداکړئ!

$$\lim_{h\to 0}\frac{f(a+h)-f(a)}{h}$$

$$y'=\lim_{h\to 0}\frac{f(2+h)-f(2)}{h}=\lim_{h\to 0}\frac{(3(2+h)^2-5-(3(2)^2-5)}{h}$$

$$y'=\lim_{h\to 0}\frac{(3(4+4h+h^2)-5)-(3(4)-5)}{h}=$$

$$y'=\lim_{h\to 0}\frac{(12+12h+3h^2-5)-12+5)}{h}=\lim_{h\to 0}\frac{12h+3h^2}{h}$$

$$y'=\lim_{h\to 0}\frac{(12+3h)}{h}=\lim_{h\to 0}(12+3h)=12$$

**د هندسي مشتق تعريف**

د تابع د مماس ميل په يوه مشخصه نقطه کې، د تابع له مشتق څخه په هماغه نقطه کې عبارت دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library




فرض کوو چې د y = f(x) تابع منحني رسم شوی، چې د منحني لومړۍ نقطه دM وي، دا نقطه د مستقل متحول ارزښت $ox_1$ او د تابع د متحول ارزښت $oy_1$ نومېږي، چې د مستقل متحول د تغیر په اثر $x_1$ او $x_2$ له M نقطې دوېمې نقطې N ته تغیر خوري چې په هغې نقطه کې تابع د $y_2$ ارزش اختیاروي، په نتیجه کې د تابع مشتق y = f(x) دی او په یوه مشخصه نقطه کې د منحني د مماس میل پیداکول، چې M نقطه وي او که N نقطه M نقطې ته نېږدې کړو او د هغې لمټ په یوه نېږدې فاصله کې M نقطې ته تقرب ورکړو، د هغې د میلان د تغیر درجه په لاندې ډول په لاس راوړو.

$$\cos = \frac{MA}{MN} =, \sin b = \frac{AN}{MN}$$

$$\tan b = \frac{\sin b}{\cos b} = \frac{MN}{MA} = \frac{AN}{MN} \cdot \frac{MN}{MA} = \frac{AN}{MA}$$

$$\tan b = \frac{AN}{MA} \Rightarrow \tan b = \frac{\Delta y}{\Delta x} = f'(x)$$

یا

$$\Rightarrow \tan b = \frac{\Delta y}{\Delta x} = m'$$

**د مشتق اقتصادي تعریف**

مشتق له نهایي کمیت څخه عبارت دی، که یو مجموعي کمیت ور کړ شوی وي لکه د مجموعي عاید تابع، مجموعي لګښت، مجموعي تولید، مجموعي سپما، مجموعي سرمایه ګزاري، مجموعي صادرات او واردات او نور.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په لنډه توګه وایو چې د تابع اول مشتق عبارت له نهایي عاید او نهایي لګښت، نهایي سپما، نهایي پانګې اچونې، صادراتو او وارداتو څخه وي، د لاندې مثالونو مشتق له لمټ نه په ګټه اخیستو پیدا کړئ!

لومړی مثال-

$y = 3x$

$y' = ?$

دواړه خواوې په $\Delta x$ تقسیموو.

دا چې $\frac{\Delta y}{\Delta x} = y'$ دی نو

$\Delta y + y = 3(x + \Delta) \Rightarrow \Delta y = 3(x + \Delta x) - y$

$\Rightarrow \Delta y = 3x + 3\Delta x - 3x = 3\Delta x \Rightarrow \Delta y = 3\Delta x$

$\frac{\Delta y}{\Delta x} = \frac{3\Delta r}{\Delta r}$

$\frac{\Delta y}{\Delta x} = 3 \Rightarrow y' = 3$

**دویم مثال-** $f(x) = x^3$ وي $f'(x)$ پیداکړئ.

$$f'(x) = \lim_{x\to a} \frac{f(x) - f(a)}{x - a} = \lim_{x\to a} \frac{x^3 - a^3}{x - a} \Rightarrow f'(x) = \lim_{x\to a} \frac{(x-a)(x^2 + ax + a^2)}{x - a}$$

$$\Rightarrow f'(x) = \lim_{x\to a}(x^2 + ax + a^2) = (a^2 + a\cdot a + a^2)$$

$$f'(x) = (a^2 + a^2 + a^2) = 3a^2$$

$$f'(x) = 3a^2$$

**د مشتق الجبري تعریف**

هر کله چې په y = f(x) تابع کې د x متحول د h په اندازه او یا $\Delta x$ تزاید وکړي، ذکر شوې تابع $\Delta y = f(x+h) - f(x)$ زیاتوالی متحول کېږي او د تابع او متحول د زیاتوالي نسبت عبارت دی له:

$$\frac{\Delta y}{\Delta x} = \frac{\Delta y = f(x + \Delta x) - f(x)}{\Delta x} = \frac{f(x+h) - f(x)}{h}$$

که چېرې د x لمټ د صفر خواته تقرب وکړي.

$$\lim_{x\to 0} \frac{\Delta y}{\Delta x} = \lim_{x\to 0} \frac{\Delta y = f(x + \Delta x) - f(x)}{\Delta x} = \lim_{x\to 0} \frac{f(x+h) - f(x)}{h}$$

که وجود ولري ویلای شو چې ذکر شوې تابع د x په نقطه کې د مشتق لرونکې ده، چې لمټ په پورته رابطه کې نیول شوی دی، د مشتق نیونې عملیه ورته وایي یعنې د y = f(x) تابع مشتق په لاندې ډول څېړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

$y' = f'(x)$ یا $\frac{df(x)}{dx} = \frac{dy}{d(x)}$ او یا $DY = Df(x)$

یا په لاندې شکل ښودل کېږي:

$$f'(x) = \lim_{x \to 0} \frac{f(x+\Delta x) - f(x)}{\Delta x}$$

او یا په بل عبارت:

$$y' = \lim_{x \to 0} \frac{\Delta y}{\Delta x} = \lim_{x \to 0} \frac{f(x+\Delta x) - f(x)}{\Delta x} = f'(x)$$

او په اخره معادله کې د f(x) تابع مشتق په لاندې ډول هم تعریفوو.

$$f'(x) = \lim_{y \to x} \frac{f(y) - f(x)}{y - x}$$

او همدارنگه د f(x) مشتق په $x = x_0$ کې عبارت دی له:

$$f'(x) = \lim_{x \to 0} \frac{f(x) - f(x_0)}{x - x_0} = \lim_{x \to 0} \frac{f(x_0 + h) - f(x_0)}{h}$$

**مثال:**- د $f(x) = x^4$ تابع مشتق دارنگه لاسته راوړو:

$$f'(x) \lim_{h \to 0} \frac{f(x+h) - f(x)}{h}$$

**حل:** فورمول ته په کتو لرو چې:

$$f(x+h) = (x+h)^4 = x^4 + 4x^3h + 6x^2h^2 + 4xh^3 + h^4$$

$$f'(x) = \lim_{x \to 0} \frac{f(x+h) - f(x)}{h} = \lim_{x \to 0} \frac{x^4 + 4x^3h + 6x^2h^2 + 4xh^3 + h^4}{h}$$

$$= \lim_{x \to 0} (4x^3 + 6x^2h + 4xh^2 + h^3) = 4x^3$$

**مثال:**- د $f(x) = 4x - x^2$ تابع د گراف میل په $p(2,-2)$ نقطه کې پیداکړئ!

**حل:** د x قیمت په p نقطه کې عبارت له 2 دی او میل په m ښیو.

$$m \lim_{h \to 0} \frac{f(x+h) - f(x)}{h} = \lim_{h \to 0} \frac{f(2+h) - f(2)}{h} =$$

$$= \lim_{h \to 0} \frac{4(2+h) - (2+h^2) - 4 \cdot 2 - 2^2}{h} = \lim_{h \to 0} \frac{8 + 4h - (4 + 4h + h^2) - 8 + 4}{h}$$

$$\lim_{h \to 0} \frac{4h - (4 + 4h + h^2)4}{h} = \lim_{h \to 0} \frac{4h - 4 - 4h - h^2 + 4}{h} = \lim_{h \to 0} (-h) = 0$$

(c) ketabton.com: The Digital Library

**مثال:-** د $f(x)=4x-x^2$ تابع د ګراف میل په $p(3,-3)$ نقطه کې پیدا کړئ؟

$$m\lim_{h\to 0}\frac{f(x+h)-f(x)}{h}=\lim_{h\to 0}\frac{f(3+h)-f(-3)}{h}=$$

$$=\lim_{h\to 0}\frac{4(3+h)-(3+h^2)-4\cdot 3-3^2}{h}=\lim_{h\to 0}\frac{9+4h-(9+6h+h^2)-(4\cdot 3+3^2)}{h}$$

$$\lim_{h\to 0}\frac{12+4h-9-6h-h^2-12+9}{h}=\lim_{h\to 0}\frac{4-6h-h^2}{h}=\lim_{h\to 0}\frac{h(4-6-h)}{h}=$$

$$\lim_{h\to 0}(-2-h)=-2$$

**د مشتق د پیداکولو قاعدې**

د مشتق د سوالونو او مثالونو د اسانه حل کولو په خاطرکولای شو له فورمول او د مشتق له قواعدو نه ګټه واخلو او د هغې سوالونه په سمه توګه تر بررسۍ لاندې ونیسو.

(۱) قاعده: د ثابتې تابع مشتق صفر دی.

لومړۍ قاعده:

فرضاً $f(x)=C$ یوه ثابته تابع وي؛ نو $f'(x)=0$ دی یعنې $(C\in R)$.

**ثبوت:** $f'(x)=\lim_{x\to 0}\frac{f(x+h)-f(x)}{h}$ او C یو ثابت عدد دی( تزاید یا تناقص) نه لري او h مقدار خلاف د صفر $x\to 0$ کړی یعنې:

$$f(x)=\lim_{x\to 0}\frac{C-C}{h}\Rightarrow f(x)=\lim_{x\to 0}\frac{0}{h}=0$$

**مثال:-** د $f(x)=20$ تابع مشتق پیدا کړئ؟

$$f'(x)=\lim_{x\to 0}\frac{f(x+h)-f(x)}{h}=\lim_{x\to 0}\frac{20-20}{h}=0\Rightarrow f'(x)=0$$

**دویمه قاعده:**

د عینیت تابع مشتق(۱) یو دی.

هر کله چې $f(x)=x$ تابع وي؛ نو $f'(x)=1$ دی

**ثبوت:**

$$f'(x)=\lim_{x\to 0}\frac{f(x+h)-f(x)}{h}=\lim_{x\to 0}\frac{f(x+h)-x}{h}\lim\frac{h}{h}=1\Rightarrow f'(x)=1$$

**نوټ:** تابع په $x=0$ کې د مشتق نیونې وړ نه وي، په داسې حال کې چې دا تابع په صفر کې متمادي ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**دریمه قاعده:**

د $f'(x)=x^n$ تابع مشتق د $(n \in jn)$ لپاره عبارت له $f'(x)=nx^{n-1}$ څخه وي.

فلهذا د طاقت لرونکې تابع مشتق مساوي دی، توان ضرب د تابع او له توان نه یو کمیږي.

ثبوت:

$$f(x+h)-f(x)=(x+h)^n-x^n$$

$$=x^n+nx^{n-1}h+\frac{n(n-1)}{2!}nx^{n-2}h^2+.....+h^n-x^n$$

$$f(x+h)-f(x)=nx^{n-1}h+\frac{n(n-1)}{2!}nx^{n-2}h^2+.....+h^n$$

د رابطې دواړه خواوې په h تقسیموو لرو چې:

$$\frac{f(x+h)-f(x)}{h}=\frac{nx^{n-1}h+\frac{n(n-1nx^{n-2}h^2)}{2}}{h}+........+h^n$$

$$\frac{f(x+h)-f(x)}{h}=\frac{n(n-1)xn}{21}+........+h^{n-1}$$

$$f'(x)\lim\frac{f(x+h)}{h}=\lim_{h\to 0}(nx^{n-1}\frac{n(n-1)}{21}xh+........+h^{n-1}$$

$$\Rightarrow f(x+h)=nx^{n-1} \quad \text{یا} \quad (x^n)'=nx^{n-1}$$

**مثال:-** د $f(x)=4x-x^2$ تابع مشتق پیداکړئ!

$$f(x)=x^{12}$$

$$f'(x)=12\cdot x^n$$

$$2) f(x)=x^{20} \Rightarrow f'(x)=20x^{19}$$

**مثال:-**د $y=\sqrt{x}$ تابع مشتق دریمې قاعدې ته په کتو لاسته راوړئ!

$$y=\sqrt{x}\Rightarrow y=x^{\frac{1}{2}}\Rightarrow y'=\frac{1}{2}x^{\frac{1}{2}-1}=\frac{1}{2}x^{-\frac{1}{2}}=\frac{1}{2x^{\frac{1}{2}}}=\frac{1}{2\cdot\sqrt{x}}\Rightarrow(\sqrt{x})'=\frac{1}{2\cdot\sqrt{x}}$$

**مثال:-** د $y=\frac{1}{\sqrt[4]{x}}$ تابع مشتق په لاس راوړئ!

$$y=\frac{1}{\sqrt[4]{x}}y=x^{-\frac{1}{4}}\Rightarrow y'=(x^{-\frac{1}{4}})'=\frac{1}{4}x^{-\frac{5}{4}}\Rightarrow y'=-\frac{1}{4\sqrt[4]{x^5}}\Rightarrow y'=-\frac{1}{4\cdot x\sqrt[4]{x}}$$

(c) ketabton.com: The Digital Library

**خلورمه قاعده:**

د يوې تابع او د يوه ثابت عدد د ضرب د حاصل مشتق مساوي دی د تابع مشتق ضرب له هغه ثابت عدد

سره هر کله چې $f$ يوه تابع او $k$ يو ثابت عدد وي مشتق: $[kf(x)]=kf'(x)$

$$[kf(x)]\lim_{h\to 0}\frac{kf(x+h)-kf(x)}{h}$$
$$=\lim_{h\to 0}\frac{k[f(x+h)-kf(x)]}{h}=\lim_{h\to 0}\frac{f(x+h)-f(x)}{h}$$
$$=\lim_{h\to 0}k\cdot\lim_{h\to 0}\frac{f(x+h)-f(x)}{h}=k\cdot f'(x)$$

**مثال:**- د $3)f(x)=8\cdot x^{12}$ $\quad 2)f(x)=7\cdot x^{6}$ $\quad f(x)=12x^{8}$ توابعو مشتق په لاس راوړی.

$a)f(x)=8\cdot x^{8}$

$f'(x)=8\cdot x^{12-1}=96x^{11}$

